DAILY

ارادە

۶۹۳

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

له تور لیست څخه د پنځو تنو طالبانو نومونه وایستل شول

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له تور لست څخه د پنځو طالبانو د نومونو د ایستلو اعلان وکړ.
دغه اعلان، د امنیت شورا د طالبانو او القاعدې پر غړو د بندیزونو د لګولو کمیسیون ورمه ورځ وکړ.
د امنیت شورا لخوا په تور لیست کې چې څوک شامل کړی شي، نو بهرنيي سفرونه نشي کولی. په بانکونو کې یې پیسې کنګل کېږي او وسلې هم نشي ساتلی.
په دې پنځو کسانو کې، چې له تور لیست څخه ایستل شوي دي، د طالبانو د واکمنۍ د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل، د سوداګرۍ ۳مخ

لسم کال - دویمه دوره، ۶۹۳مه ګڼه، پر له پسې ۱۷۶۱ ګڼه د ۱۳۸۸ ل ـ د سلواغې ۸ مه - د پنځشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د صفر ۱۲ مه د ۲۰۱۰ د جنورۍ ۲۸ مه

کنفرانس لندن، آخرین فرصت و آخرین امید

قرار است امروز کنفرانس لندن در مورد افغانستان ساعاتی بعد در لندن برگزار شود؛ در این کنفرانس که مدت ها به اینسو برایش تبلیغات صورت می گرفت، به شمول رییس جمهور کرزی، منشی عمومی ناتو، بان کی مون سرمنشی سازمان ملل متحد، صدراعظم بریتانیا، هیلری کلنتن وزیر امور خارجهٔ امریکا و نماینده گان بیش از ۶۰ کشور شرکت خواهند کرد. بعد از کنفرانس بن، توکیو، روم این بزرگترین کنفرانسی است که در قبال بررسی قضایای افغانستان دایر می گردد.

گرچه گفته می شود که موضوع یمن نیز شامل اجندای این کنفرانس خواهد بود، ولی چنانکه شنیده و دیده می شود، محور اصلی و اساسی گفتمان ها و رایزنی هایی آنرا بررسی اوضاع افغانستان، از جمله طرح گفتگو دولت کابل با مخالفان مسلح، چگونگی مبارزه با فساد اداری، کمک های بیشتر جامعهٔ به افغانستان و تقویت نیروهای امنیتی داخلی تشکیل می دهد.

قابل یادآوری است که در کنفرانس های گذشتهٔ بین المللی یی که در راستای کمک به افغانستان طی هشت سال گذشته در کشورهای مختلف تدویر گردیده بود نیز، شعارهای مبنی بر کمک های بیشتر جهت بازسازی افغانستان، دولت سازی، حاکمیت قانون و تامین امنیت سر داده می شد، اما آنچه که در واقع دیده شد، از این کنفرانس ها جز نامی، برای افغانستان باقی نماند. با وعده ها و وعیدهای فراوانی که در تالار این کنفرانس ها سر داده شد، هیچ یک از آنها جامهٔ عمل نپوشید، صرف کلام بافی و سخن آرایی سخنرانان همان مجلس شد. مردم افغانستان در حالی که در آستانهٔ برگزاری این کنفرانس بین المللی قرار دارند، امیدوار هستند، که جامعهٔ جهانی و دولت ص۳

په کابل کې د برېتانیا سفیر په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی وټاکل شو

ناټو د سې شنبې په ورځ یوجګپوړی برېتانوي ډیپلومات په افغانستان کې خپل ملکي استازی ونوماوه او ویې ویل، چې هیله لري د خپل استازي په توګه د دې ډیپلومات نومول به د دې لامل شي، چې د امریکا له پوځي عملیاتو سره بنه همغږي رامنځته کړي

د ناټو عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن په کابل کې د برېتانیا اوسنی سفیرمارک سیډویل په افغانستان کې خپل ملکي استازی وټاکه .ناټو دا پرېکړه په داسې حال کې کوي، چې د افغانستان په اړه د نړیوالې ټولنې په پالیسۍ کې له اته کلنې جګړې وروسته لوی بدلون روان دی.

سیډویل د ۲۰۰۹ زېږدي کال له لومړیو څخه په کابل کې اوسي .د ناټو د ملکي مشر په توګه د هغه د ټاکنې اعلان د لندن ترنړیوال کنفرانس یوازې دوې ورځې مخکې کېږي، چې ټاکل شوې ده د افغانستان د راتلونکي په اړه ترټولو مهمې پرېکړې پکې وشي.

د ټاند د رپوټ له مخې، څارونکي د لندن کنفرانس په تېرو څه باندې نهو کلونو کې ترټولو مهم کنفرانس بولي او وايي چې په دې کنفرانس کې به له طالبانو سره د خبرو او روغې جوړې په ګډون د افغانستان د تاریخ د دې پړاو ترټولو مهمې اوحساسې پرېکړې وشي.

د ناټو سرمنشي ښاغلي راسموسن وویل، چې د دې ترون لپاره به یوه ډېره مهمه موضوع په افغانستان کې د دې ترون پیاوړتیا او د ملکي مرستو همغږیتوب وي.

استرالیا د خپل سرتېري د اعدام د حکم په اړه غبرګون ونبود

استرالیا په افغانستان کې د خپل سرتېري د اعدام په حکومت غبرګون ونبود

د استرالیا حکومت وايي، له افغان چارواکو سره به په دې اړه جدي خبرې وکړي، چې د یوه افغان امنیتي ساتونکي د وژلو له امله پر یوه استرالیايي سرتېري د اعدام حکم تطبیق نه کړي.

پخواني استرالیايي عسکر ۳۸ کلن رابرټ والیم لنګډن تېره اونۍ د کابل د استیناف محکمې له خوا د مې په میاشت کې د یوه افغان امنیتي ساتونکي کریم د وژلو په جرم پر اعدام محکوم شو.

د یوې استرالیايي ورځپاڼې د راپور له مخې، لنګډن په میدان وردګو ولایت کې پر دغه افغان د یوه اکمالاتي کاروان د امنیت په اړه د شخړې په ترځ کې وروسته له هغې ډزې کړې وې، چې دغه کاروان د وسلوالو طالبانو له خوا له کمین سره مخ شوی و.

لنګډن چې په افغانستان کې یې له یوې امریکایي امنیتي کمپنۍ سره کار کاوه، په محکمه کې ویلي، چې پر افغان یې د خپل ځان د دفاع لپاره وروسته له هغې د توفنګچي ډز وکړ، چې نوموړي خپلې وسلې ته لاس کړ.

د دغه استرالیايي ادعا د افغانستان محکمې رد کړې ده.

که نن پر تا سبا پر ماده

آینده افغانستان وابسته به اعمال امروزین شماست.
سهم خودرا برای رهایی افغانستان از شر دشمنان ادا سازید.
فعالیت های مشکوک را به بزرگان محل تان راپور دهید.

د دښمنانو له شرڅخه د افغانستان د خلاصون په لارکې خپله ونډه پرځای کړئ .
دشکمنو کړنو په اړه دخپلې سیمې مشرانوته رپوټ ورکړئ .
د افغانستان راتلونکې ستاسو له ننني کړنو سره تړاو لري .

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

مصالحهٔ ملی نباید جنبهٔ نمایشی و تعارفی داشته باشد

تبلیغات پیرامون مصالحهٔ ملی و گفتگو با طالبان از مدت مدیدی است که در فضای سیاسی افغانستان طنین انداز است، اما این مسأله در این چند هفتهٔ اخیر به اوج خود رسیده است، چنانکه روزی نیست که در ارتباط با این موضوع خبری از طریق رسانه ها گوش ها را نوازش ندهد.

اینکه چرا در مدت هشت سال گذشته این پروسه مورد تطبیق قرار نگرفت و یا اینکه چرا در این اواخر این تبلیغا ت بار دیگر اوج گرفته، سوالی است که تا هنوز جواب آن به صورت واضح روشن نشده که هدف این پروسه تنها تبلیغات سیاسی است و یا اینکه در تطبیق این پرو سه موانعی ایجاد می گردد.

تبلیغات پیرامون این پروسه در این اواخر چنان اوج گرفته که حتا رییس جمهور کرزی برای تطبیق این پروسه بودیجهٔ یک میلیارد دالری را برای آموزش مسلکی و اسکان طالبان پیشنهاد نموده که به صورت آنی دولت جاپان هزینهٔ این پروسه را متقبل گردیده است.

نیویارک تایمز از قول سخنگوی طالبان می نویسد که: " دولت افغانستان می خواهد طالبان را بخرد، اما باید گفت که ما برای فروش نیستیم ".

اما آقای کرزی می کوشد که با طالبان مصالحه نموده و آنها را متقاعد سازد، تا سلاح خویش را به زمین گذاشته و به مخالفت خود با دولت افغانستان خاتمه دهند.

رییس جمهور اظهار نموده که این روند کاملاً یک پروسهٔ افغانی بوده و مصارف آنرا حکومت افغانستان خواهد پرد اخت.

ولی اینکه دولتمردان افغانستان در تطبیق این پروسه صلاحیت اجراییوی و توان اقتصادی دارند، تا این برنامهٔ خویش را عملی نمایند؟ سوالی است که بعضی از کارشناسان داخلی و خارجی آنرا به دیدهٔ شک می نگرند.

احمد رشید یک نویسندهٔ پاکستانی می گوید، طالبان آمادهٔ گفتگو با دولت افغانستان نیستند.

اما اطهرعباس سخنگوی نظامی پاکستان می گوید، او می تواند، ملا محمدعمر را برای مذاکره با حامد کرزی به روی میز مذاکره بکشاند.

اینکه مقام های نظامی و زمامداران پاکستان در این قول خویش چقدر صادق اند، سوالی است که سیاست های مزورانهٔ آن کشور در قبال افغانستان در طول تاریخ چون اظهر من الشمس است.

کارشناسان افغان معتقد اند که نشست ها پیرامون مصالحهٔ ملی جنبهٔ نمایشی و تعارفی داشته و برای پرستیژ سیاسی و حکومتی کشورهای ذیدخل در قضیهٔ افغانستان است. بنابران، تاکید می نمایند که نباید صلاحیت مصالحه ملی و روند مذاکره به مقام های دولت کشورهای دیگر واگذار گردد.

نظریات نهادهای مدنی و جامعهٔ بین المللی نیز در این ارتباط گونه گون و در تناقض است.

شماری از نهادهای مدنی و دفاع از حقوق زن به این موضوع واکنش نشان داده و طالبان را ناقضان حقوق بشر به ویژه حقوق زن خوانده اند.

از جانب دیگر، جامعهٔ جهانی، طالبان را بلای آسمانی وغدهٔ سرطانی خطاب نموده می گویند که طالبان در تبانی با القاعده در طول سرحدات پاکستان به فعالیت های تخریبی مشغول اند و گاهی هم ایشان را یک بخشی از بافت سیاسی افغانستان خوانده و در بازگشت ایشان به دولت افغانستان سعی وتلاش می نمایند.

رهبر حزب اسلامی افغانستان انجنیر حکمتیار از این پیشنهاد دولت با نشان دادن زیگنال سبزاستقبال نموده طی اعلامیه یی گفته است که وی با حکومت کرزی کدام دشمنی ندارد، بلکه او تنها با قوای خارجی می جنگد.

اینکه پروسهٔ مصالحهٔ ملی تا چه اندازه به موفقیت نایل می گردد، مربوط به صداقت و از خودگذری هر دو جانب می باشد تا به تعهدات خویش پابند باشند.

امید است، هردو طرف با درک حساسیت های تاریخی کشور مخالفت های سلیقه یی را کنار گذاشته و با حسن تفاهم به موافقه برسند، تا باشد که کشتی لرزان کشور را از بحرمتلاطم و توفانزای تباهی نجات داده به ساحل امید برسانند. دست دشمنان وطن را از مداخله در اموروداخلی افغانستان کوتاه و امید شان را برای ایجاد فضای متشنج و ناگوار قطع نمایند.

که نن پر تا سبا پر ماده

ساحل بهیر



زموږ په هېواد کې فساد هغه کلمه ده، چې دا ډېر وخت یې کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ په اړه لیکنې خپروي او ډېرې غونډې او سیمینارونه هم په دې اړه جوړ شول، خو د دې ستونزې د اوارې لپاره تر اوسه پورې په سم ډول څېړنې نه دي شوې. نه پوهېږم چې دولت ولې نه غواړي چې په دې اړه په سمه توگه څېړنې وکړي او که هم د دوی په خپل منځ کې لوړ پوړي کسان پر دې ناروغۍ اخته دي، چې دوی نشي کولای مخه یې ونیسي، ځکه دوی پوهېږي چې که نن ورځ پر تا سبا پر ما ده، که نن ورځ ستا په نیولو کې هڅه وکړم، کېدای شي چې سبا زما هم همدا حال وي، بیا به زما د خوشې کولو لپاره څوک هلې ځلې کوي، نو له همدې امله لوړپوړي چارواکي په دې برخه کې له یو بل سره مرسته کوي.

په هېواد کې د یوې سروې له امله ویل شوي، چې په سلو افغانانو کې شاوخوا ۲۵ مرکه شوو ویلي، چې لږ تر لږه یو ځل یې پولیسو او سیمه ییزو چارواکو او دوه په سلو کې نور یې قضایي او دولتي ارگانونو ته رشوت ورکړی دی.

ملگري ملتونه وایي چې تېر کال په افغانستان کې فساد ډېر زیات شوی و. د دغه سازمان په یوه ترسره شوې نظر پوښتنه کې راغلي، چې عام افغانان تر هر څه ډېر له فساد څخه ډېر کرېږي او دا یوه لویه ستونزه بولي.

د رپوټ پر بنسټ په تېرو دوولسو میاشتو کې افغانانو کابو دوه اعشاریه پنځه بیلیونه ډالر ورکړي دي.

په دغه سروې کې، چې د ملگرو ملتونو له فساد او جرمونو سره د مبارزې د ادارې له خوا ترسره شوې، راغلي په سلو کې نژدې ۲۰ افغانانو ویلي، چې ورځنۍ ژوند یې له دولتي فساد سره لاس او گرېوان دی.

په سروې کې په سلو کې ۵۴ تنو ناامني او په سلو کې ۵۲ کسانو بېکاري لویې ستونزې بللې دي.

په دغه نظرپوښتنه کې له ۷۲۰۰ افغانانو سره د افغانستان په دوولسو ښارونو او ۱۲۰۰ کلیوالو سیمو کې خبرې شوې دي.

همدارنگه په سروې کې راغلي، چې د افغانستان د نفوسو تر نیمایي ډېر خلک باید د خپلو کارونو د خلاصولو لپاره رشوت ورکړي.

په ملگرو ملتونو کې له فساد او جرمونو سره د مبارزې مشر انتونیا ماریا کوستا وایي، په دغه نظر پوښتنه کې د گډونوالو په وینا، خلک د دولت له خدمتونو نه له رشوت ورکولو پرته نشي برخمن کېدای.

دغه وروسته له هغه شوې، چې څو ورځې وړاندې د بي بي سي او یو شمېر نورو ادارو له خوا په یوه نظرپوښتنه کې په سلو کې ۱۴ افغانانو له فساده شکایت کړی و او دا یې په هېواد تر ټولو لویه ستونزه بللې وه.

د ملگرو ملتونو دغه نوې نظرپوښتنه ښیي، چې په هرو دوو افغانانو کې یوه یې رشوت ورکړی او له دغو کسانو زیاتره په ډاگیزه توگه رشوت غوښتل شوی او اخیستل شوی دی.

د دغه رپوټ برابروونکي وایي، چې په افغانستان کې د رشوت ورکولو متوسطه اندازه ۱۲۰ ډالر اټکل شوې ده.

په سروې کې په سلو کې شاوخوا ۲۵ مرکه شوو افغانانو ویلي، چې لږ تر لږه یو ځل یې پولیسو او سیمه ییزو چارواکو او دوه په سلو کې نور یې قضایي او دولتي ارگانونو ته رشوت ورکړی دی.

په دغه رپوټ کې نړیواله ټولنه او نادولتي سازمانونه هم له نیوکې نه دي پاتې شوي.

په مرکه شوو کسانو کې سلو ویلي، چې نړیوال او نادولتي سازمانونه هم په فساد کې ښکېل دي او افغانستان کې د پانگې جوړولو لپاره کار کوي.

که چېرې موږ د دولتي کسانو لوړو منزلونو ته وگورو، په پوره ډول څرگندېږي چې دا پیسې په معاش باندې نشي برابرېدای، او دوی نشي کولای چې د معاش پر پیسو دومره لوړتجارتونه وکړای شي او په دوبۍ کې دې پرې ملکیتونه واخلي.

امریکا در افغانستان وقتش را به هدر می دهد

منبع: روزنامهٔ نیویارک تایمز

یک روزنامهٔ امریکایی با اشاره به کنفرانس لندن دربارهٔ افغانستان و همچنین طرح امریکا برای مذاکره با طالبان، این اقدام واشنگتن را تلف کردن وقت تشبیه کرد.

روزنامهٔ نیویارک تایمز در ادامه می نویسد: در حالی که دولت اوباما از یک سو در حال اعزام ۳۰ هزار نیروی جدید به افغانستان است از سوی دیگر، به راه هایی برای آشتی با مردی (ملا عمر) می اندیشد که زمانی پذیرای بن لادن بود و روابط بسیار نزدیکی را با القاعده داشت.

این روزنامه در ادامه می نویسد: "حامد کرزی" رییس جمهور افغانستان اعلام کرده که قصد نزدیک شدن به رهبران طالبان را دارد و دولت وی و همچنین دولت امریکا نیز به این موضوع فکر می کنند.

اما کارشناسان نسبت به این مسأله هشدار داده و اعلام می کنند که نزدیک شدن به طالبان پیامدهای منفی زیادی در برخواهد داشت که مهمترین مورد آن ورود تعداد زیادی از نیروهای طالبان به افغانستان خواهد بود.

نیویارک تایمز می نویسد: این طرح هر چند هنوز در مراحل ابتدایی است، اما می تواند، استراتیژی بعدی امریکا در افغانستان را شکل بدهد و این در حالی است که مردم امریکا هنوز خاطرات یازدهٔ سپتمبر را فراموش نکرده اند.

این در حالی است که قرار است، امروز در لندن کنفرانس بین المللی دربارهٔ افغانستان برگزار می شود و انتظار می رود که ایالات متحده، بریتانیا و جاپان با اهدای سالانه ۱۰۰ میلیون دالر به افغانستان به منظور اختصاص در اموری همچون اشتغال زایی و سایر زیر ساخت ها موافقت کنند اما با ین وجود، متحدان امریکا هنوز دربارهٔ آشتی با "ملا محمدعمر" مرد شماره یک طالبان و دیگر قوماندانان ارشد طالبان ص۳

کنفرانس لندن، آخرین فرصت ...

افغانستان با استفاده از تجربه های هشت سال گذشته، به حل راستین قضایای افغانستان اندیشیده و راهکارهای را برنامه ریزی و پیاده نمایند، که با شرایط موجود و واقعیت هایی که در بطن جامعهٔ افغانی نهفته است، همخوانی داشته باشد، و هر وعده یی را که در قبال حل مسایل افغانستان به زبان می آورند، باید در انجام عملی آن هم کوشا باشند، و گرنه این آخرین فرصتی هم برای جامعهٔ جهانی و هم برای افغان ها خواهد بود، زیرا اگر مصوبه های این کنفرانس جامهٔ عمل نیابد، مردم افغانستان دیگر به گفته های و برنامه های جامعهٔ جهانی در خصوص افغانستان باورهای موجود را نیز از دست داده و افغانستان باردیگر شاهد بحران های گذشته خواهد بود.

امریکا در افغانستان وقتش را به هدر ...

تردید دارند.

برخی کارشناسان معتقد اند که مذاکره با طالبان و آشتی با آنها در شرایط فعلی طرح مناسبی نیست و برای رسیدن به این مرحله هنوز راه زیادی باقی مانده است.

این در حالی است که ملامحمدعمر خود با صراحت اعلام کرده که نتیجهٔ جنگ فقط در میدان نبرد مشخص نمی شود.

با این وجود و با توجه به اختلافات موجود میان متحدان امریکا دربارهٔ مذاکره با طالبان، وجود فساد در افغانستان، مشخص نبودن

وضعیت مبارزه با کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر و نقش آن در اقدامات طالبان و همچنین مشخص نبودن مواضع این گروه شورشی در روند سیاسی آیندهٔ افغانستان می توان گفت، امریکا با پرداختن به طرح مذاکره با طالبان و آشتی با آنها آنهم در شرایطی که هنوز اوضاع در افغانستان همچنان بی ثبات است، در حال هدر دادن وقت خود است زیرا تا زمانی که موارد ذکر شده حل نشوند، مذاکره با طالبان نمی تواند، نتیجه یی داشته باشد زیرا در شرایط فعلی اوضاع به نفع این گروه بوده و برای وارد کردن آنها به روند سیاسی افغانستان باید هزینه های زیادی صرف شود.

افغانستان، عراق ...

سرعت عراق بهبود یابد. نمی توان شرایط عراق را با افغانستان یکی دانست. نمی توان گفت که طرح کاهش سطح خشونت‌ها در عراق، در افغانستان نیز در همان مقطع زمانی عملی خواهد شد.

جنرال پترائوس در مورد طرح مذاکره با گروه طالبان و اعضای آن تصریح کرد که هر هفته شبه نظامیان طالبان به امریکا، ناتو و دیگر نیروهای افغانی که خواهان مذاکره هستند نزدیک می شوند. وی افزود: موضوع آشتی در مذاکره احتمالی میان مقامات افغان و شبه نظامیان ارشد طالبان یا دیگر رهبران شبه نظامی، یکی دیگر از احتمالات است. با این حال، اکثر ناظران معتقدند که این موضوع زمان خواهد برد.

په اروپا کې د ښځو د نقاب پر سر ناندرې

سرچینه: بي بي سي

فرانسه د اروپایي هېوادونو په منځ کې پر نقاب د بند سخکښ هېواد بلل کېږي.

دا پوښتنه چې مسلمانې ښځې حق لري خپل مخونه وپوښي، یوازې په فرانسه کې ناندریزه مسئله نه ده، بلکې په یو شمېر نورو هېوادونو کې هم پر دغې مسئلې غور روان دی.

پر دې سربېره دا مسئله په اروپایي ټولنه کې د اسلام د ځای او هم د دغه دین د ښنو په اړه د یوه پراخ او ډېر وخت غوسه ناک بحث برخه ده.

دا چې په کوم غوره ډول مسلمان لړکي د اروپایي هېوادونو په ټولنو کې ورګډ کړی شي، له اوږدې مودې راهیسې یې په اړه ګرمې ناندرۍ روانې دي.

یو سیکیولر یا پر مذهب نه ولاړ دولت ته د فرانسې ژمنتیا په دې مانا ده، چې دغه هېواد د څو کلونو په اوږدو کې په ټاکلو عامه ځایونو کې مذهبي نښې ناقانونه کړې دي.

خو د اسلام ارزښت او ځای په دغه ډول بحثونو کې تل یوه مهمه او د پام وړ موضوع پاتې شوې ده.

د نقاب یا مخ پټولو پړونې پر مسئلې د فرانسې په پرتله بل هېڅ اروپایي هېواد په دومره تفصیل غور او بحث نه دی کړی.

په برېتانیا کې یوازې یو کوچني سیاسي ګوند پر ځادرۍ او نقاب د بندیز لګولو وړاندیز کړی دی.

په ډنمارک کې یو دولتي کمېسیون لاتر اوسه پر همدې مسئلې غور کوي.

او په ایټالیا کې یو داسې قانون دی، چې له ۱۹۷۰ کلونو راهیسې پلی کېږي او لاله وړاندې یې په عام ځای کې د مخ پټول ناقانونه کړی دي، خو لامل یې دا دی چې عام نظام وساتل شي، نه دا چې کومه بله ځانګړې خبره وي او له دین سره تړاو ولري.

په دې اړه دا ننګونه هم څرګنده ده، چې مسلمانې ښځې د دې حق ولري، چې بهرنۍ نړۍ ته یوازې خپلې سترګې وښيي که څنګه؟ دا په خپله یوه داسې موضوع ده، چې د مسلمانانو ترمنځ پرې بحث کېږي.

که څه هم پر دې موافقه شوې، چې ښځې باید په جامو او لباس کې خپل درښت وساتي، خو بیا په دې اړه نظرونه سره توپیر لري، چې مسلمانې ښځې د خپلو مخونو پټولو لپاره د دودیز دلیل پر ځای مذهبي پلمه لرلی شي.

خو دا ځانګړی بحث اوس د اروپایي پېژند ګلوۍ په اړه لا پراخې پوښتنې راپورته کوي او هم دا چې اروپایي هېوادونه په خپله دودیزه او مذهبي ټولنه کې، چې رنګارنګوالی یې پر له پسې زیاتېږي، په خپله غېږ کې د اسلام نیولو ته څومره چمتو دي.

په سویزرلنډ کې د جوماتونو منارو پر جوړولو وروستی بندیز د دې یوه بله بېلګه ده چې دغه ډول پوښتنې څومره ناندریزې او حساسې شوې دي.

فرانسه داسې ښکاري چې په ځانګړو ځایونو کې پر مسلمانو ښځو د ځانګړو جامو اغوستنې د بندیز لګولو تګلارې مشري کوي.

اورپا چې د دې شعار له مخې وایي، د مذهبي ازادۍ نه دفاع کوي، اوس د دې خبرې پر ارزولو بوخته ده، چې وګورې خپلو مسلمانو ښځو ته د ازادۍ په ورکولو کې په څومره ازاد ډول چمتو ده.

د القاعدې او طالبانو تر منځ جنجال رامنځته کېږي

د بن لادن زوی عمر، چې د خپل ماشومتوب ډېره برخه یې په افغانستان کې د جنګیالو په روزنځایونو کې تېره کړې ده وایي، د القاعدې او طالبانو ترمنځ اړیکي د مصلحت اوګټې پر بنسټ دي، نه د مینې له مخې.

د دواړو خواوو ترمنځ اړیکي د پاملرنې وړ دي، ځکه اوسمهال نړیوال ځواکونه دا څېړي، چې څرنګه له طالبانو سره خبرو ته ورګډ شي او په هېواد کې یو ځای ته ورسېږي او له القاعدې راجلا شي.

په لوېدیځ کې د ترهګرۍ د چارو کارپوهان وایي، د القاعدې مشر بن لادن او مشران ملګري یې اوس هم ډیورنډ کرښې ته څېرمه سیمو کې د افغاني طالبانو د ملاتړ له کبله ځای پر ځای شوي دي اوس هم د بن لادن

نیول او یا وژل د لوی لوېدیځ مهمه دنده او غوښتنه ده. تحلیلګران وایي، لوېدیځ به طالبان وهڅوي، چې له القاعدې سره خپلې اړیکې کټ کړي او دا داسې یو بار دی، چې خپلې اوږې ورځنې سپکولای شي.

۲۸کلن عمر وایي، د اړتیا پر مهال د القاعدې او طالبانو اتحاد شونی دی، ځکه دا دواړه ډلې یو بل نه خوښوي، زما له انده که بل څوک نه وي، دوی به خپلو کې سره ښکېل شي.

عمر د بن لادن څلورم زوی دی او د ۲۰۰۱ زېږدي په پیل کې د پلار له لاسه ووت او د ۱۹۹۶-۲۰۰۱ زېږدي ترمنځ په افغانستان کې له خپل پلار سره یو ځای و، نوموړي وایي، له ۲۰۰۱ زېږدي راوروسته د القاعدې او طالبانو ترمنځ اړیکې ترینګلې شوي دي.

عمر وایي، خبریالان اوس هم لګیا دي، داسې کېسې لیکي لکه زما پلار او د طالبانو مشر ملا عمر نژدې ملګري دي، په هر کار کې سره مشوره کوي، زه په دې باور نه یم، اړتیا دوی سره یو ځای کولای شي، له دې ور اخوا دا دواړه له خپلو ډلو سره خوښ وي، د القاعدې په اړه، چې څه لیکل کېږي، پر هغو باور مه کوئ.

له تور لیست څخه د پنځو تنو طالبانو نومونه ...

وزارت مرستیال فضل محمد فیضان، د سرحداتو او قبایلو وزارت مرستیال وزیر مولوي عبدالحکیم منیب، د بهرنیو چارو وزارت د رسنیو د مرکز مشر شمس الصفاء امین زی او د پلان وزارت مرستیال وزیر محمد موسی هوتک شامل دي.

دغه کسان په داسې حال کې له تورلېست څخه ایستل شوي، چې ولسمشر حامد کرزي د خپل دولت له مخالفینو سره د سولې یوه طرحه جوړه کړې، چې د لندن په کنفرانس کې به یې وړاندې کړي.

د پژواک د رپوټ له مخې، حامد کرزي څو ورځې مخکې ویلي وو، چې غواړي له تور لېست څخه د یو شمېر کسانو نومونه وباسي.

ملګرو ملتونو دغه تور لېست پر ۱۹۹۹ زېږدي کال د امنیت شورا د ۱۲۶۷ لمبر پرېکړه لیک پر بنسټ، د وسلوالو طالبانو د واکمنۍ پر مهال جوړ کړ، چې په کې د طالبانو د ډېرو مشرانو او غړو نومونه شامل کړی شوي دي. د دې پرېکړې لیک له مخې، د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه اړ دي، چې په لېست کې شاملو کسانو ته د سفر اجازه ورنه کړي او پیسې یې په بانکونو کې کنګل کړي.

په دې لست کې ټول ۵۰۰ کسان شامل دي، چې ۱۴۲ یې افغانان دي.

په بالامرغاب کې سلګونه کورنۍ د بمباریو د وېرې له امله بېځایه شوې

امنیتي چارواکي وایي، چې د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې دوه طالبان وژل شوي او سلګونه کورنۍ د جګړې او بمبار له امله، بېځایه شوې دي.

د بادغیس امنیه قوماندان مل پاسوال سید احمد سامع وویل، چې دغه دوه طالبان د بالامرغاب په خاصه دار کلي کې له ناټو ځواکونو سره په نښته کې وژل شوي دي.

هغه زیاته کړه، چې د نښتې په اوږدو کې دوه نور طالبان ټپیان شوي دي. خو طالب ویاند قاري یوسف احمدي ادعا کوي، چې هغوی په دغې نښته کې دوه بهرني سرتېري وژلي او یو شمېر نور یې ټپیان کړي دي.

هغه وویل، چې د نښتې په اوږدو کې یوازې یوه طالب خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د پژواک د رپوټ له مخې، د بادغیس امنیه قوماندان وایي، چې ناټو ځواکونو ورمه شپه په سیمه کې بمبار هم کړی دی، خلکو ته زیان نه دی اوښتی، خو د سیني او قبچاق (دخاصه دار ګاونډ) کلیو څخه پنځه سوه کورنۍ د جګړې او بمبارۍ له وېرې شاوخوا سیمو ته کډه شوې دي.

ناټو ځواکونو تردې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

سیاسي کارپوهان:

پاکستان او ایران د کرزي د سولې له طرحې سره اخلاص نه لري

د ایران او پاکستان په ګډون یو شمېر هېوادونو له وسلوالو مخالفینو سره د افغان دولت د سولې له طرحې ملاتړ کړی، خو ځینې سیاسي کارپوهان د ایران او پاکستان ملاتړ ته د شک په سترګه ګوري.

ولسمشر حامد کرزي د افغانستان په اړه په لندن کې کېدونکي کنفرانس کې له مخالفینو سره د سولې طرحه وړاندې کوي، چې د ګاونډیو هېوادونو، امریکا، برېتانیا او نورو نړیوالو لخوا یې د ملاتړ اعلان شوی دی. خو یو شمېر سیاسي کارپوهان د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړې توګه د ایران او پاکستان ملاتړ ته د شک په سترګه ګوري. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد او د سیاسي چارو څېړونکی نصرالله ستانکزی وایي، چې که ګاونډي هېوادونه په اخلاص سره عمل وکړي، دا به د افغانستان د امنیت او سولې لپاره ګټور وي.

هغه زیاته کړه: «د افغانستان د امنیت او سولې مسئله، یوازې د افغانستان په دننه پورې محدود نه ده، بلکې ۲۰ سلنه یې په ګاونډیو پورې اړه لري.»

د ستانکزي په وینا، دی باور نه کوي، چې دغه هېوادونه په ځانګړي ډول ایران او پاکستان به په خپلو ژمنو متعهد پاتې شي، ځکه چې پاکستان او ایران تل د افغانستان په نا امنیو کې خپلې ګټې لټولې دي. هغه پر اسلام اباد هم تور ولګاوه، چې تل یې د کابل حکومت د کمزورې کولو هڅې کړې دي. ستانکزي سعودي عربستان هم تورن کړ، چې نه غواړي هغه وسلوال عرب، چې د القاعدې په لیکو کې دا مهال په افغانستان او یا هم د سیمې په نورو هېوادونو کې پر جګړه بوخت دي، بېرته عربستان ته ور شي. دغه راز د سیاسي چارو یوبل کارپوه محمد حسن ولسمل وایي، چې ایران او پاکستان په اخلاص سره د ولسمشر کرزي د سولې د طرحې ملاتړ نه کوي. نوموړي زیاته کړه: «په دې برخه کې د پاکستان صداقت ته د شک په سترګه ګورم، ځکه چې د پاکستان او آی اس آی په فکرونو کې تغیر راتلل ستونزمن نه، بلکې ناشونی کاردی.» د نوموړي په وینا، ایران هم په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون ټینګ مخالف دی او هڅه کوي، چې له بېلابېلو لارو څخه د امریکا واکمنې په افغانستان کې تر فشار لاندې راولي. په ولسي جرګه کې د کندوز د خلکو استازی معین مرستیال هم وایي، چې د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي ډول پر پاکستان او ایران باندې د امریکا او نړیوالې ټولنې له فشارونو پرته به دغه ویناوې یوازې د وینا په چوکاټ کې پاتې وي. هغه زیاته کړه: «که چېرې امریکا او نړیواله ټولنه پر پاکستان او ایران سیاسي او نظامي فشارونه او اقتصادي بندیزونه راولي، نو دغه د ملاتړ ویناوې به هېڅ ګټه ونه لري.» مرستیال ته چې ګاونډي او د سیمې هېوادونه باید متقاعد شي، چې د دوی ګټه د افغانستان په امن او ثبات کې ده، خو زیاتوي: «یوشمېر ګاونډي هېوادونه خپله بقا د افغانستان په نا امنیو کېویني او حتا تر دې چې یوشمېر یې د افغانستان خپلواکي هم نه مني.»

دغه راز د وسلوالو طالبانو د واکمنۍ پرمهال د بهرنیو چارو وزیر وکیل احمد متوکل وایي، چې که دغه طرحه، چې په افغانستان کې د جګړې پرځای د سولې په بهیر تاکید وکړي، نو اغېزمنه به وي.

خو دی هم وایي چې ایران تل په افغانستان کې د بهرنیانو په شتون مخالفت ښودلی، چې په افغانستان کې د بهرنیانو شتون به د ایران لپاره د زغملو وړ نه وي.

وزیر دفاع آلمان در گفتگو با فرانکفورتر آلگماینه:

امنیت افغانستان باید وجهه‌یی افغان داشته باشد



وزیر دفاع آلمان اظهار داشت: ما انتظار داریم که بعد از کنفرانس افغانستان، به چگونگی ایفای نقش آیندۀ متحدان خود در افغانستان پی ببریم.

کارل تئودور تسو گوتنبرگ، وزیر دفاع آلمان، در گفتگو با نشریۀ آلمانی فرانکفورتر آلگماینه، اظهار داشت که کشورش خواهان موفقیت در افغانستان است، اما این به معنای ایجاد دموکراسی طبق الگوی غربی نیست.

متن کامل گفتگوی صورت گرفته با وی به شرح زیر است:

س: آقای وزیر شما در کنفرانس افغانستان که روز پنجشنبۀ برگزار می شود، از چه چیزهایی آگاه خواهید شد که تاکنون از آن‌ها مطلع نشده‌اید؟

ج: ما انتظار داریم که به برآورد روشنی از سهم دیگر شرکای خود و هم چنین افغان‌ها در افغانستان برسیم. البته منظور فقط سهم نظامی نیست، بلکه ما سهم کلی نیروها را مدنظر داریم. علاوه بر این، ما طی هفتۀ جاری میزان دقیق احتمالی نیروهای اضافی را معرفی می‌کنیم، اما در هر صورت این اعلام ما می‌تواند، با توجه به نتایج کنفرانس تغییر یابد.

س: یعنی اینکه تعداد سربازان بیشتری فرستاده شود، یا نه، به کنفرانس لندن بستگی دارد؟

ج: افزایش سهم غیرنظامی ما، آن هم در حوزۀ حضور ما یعنی در شمال افغانستان، به طرز بسیاری مهمی به عملی کردن برآوردها و ارزیابی‌های ما براساس طرحی که من برای توسعۀ بخش نظامی در افغانستان ارایه دادم، بستگی دارد. البته تغییر استراتیژی ما بخشی از این طرح است، تغییر استراتیژی‌یی که چشم‌اندازهای خروج و عقب نشینی را نیز در نظر دارد. نقطۀ عطف این استراتیژی بر حمایت از مردم افغانستان، آموزش نیروهای امنیتی افغان و تغییر و تقویت کمک‌های دولتی برای توسعه قرار دارد. حضور بیشتر در افغانستان به معنای نزدیکی بیشتر با مردم افغانستان، حمایت از آن‌ها و به طور همزمان آموزش نیروهای امنیتی پولیس به جای نیروهای جنگی است که این مسأله نیز تجدید ساختار در سهم فعلی نیروها را طلب می‌کند.

س: وستروله، وزیر امور خارجۀ آلمان، اظهار داشته بود که "کنفرانس لندن نباید کنفرانس افزایش نیرو باشد و در این صورت وی به این کنفرانس نخواهد رفت". آیا منظور وستروله این نیست که اگر گوتنبرگ به این کنفرانس برود، وستروله از رفتن خود صرف نظر خواهد کرد؟

ج: خیر، ما به طور مشترک با هم کار می‌کنیم و طرح‌های آیندۀ ما در مورد افغانستان از سوی همۀ اعضای دولت فارغ از اینکه من باشم، یا وزیر امور خارجۀ، در این کنفرانس معرفی خواهد شد. حضور یک نماینده کافی است. ما قبلا به این توافق رسیده‌ایم و موارد بیهوده و پوچ نیز نقشی را در این مورد ایفا نمی‌کند.

س: نظر شما در مورد آموزش نیروهای افغان چیست؟

ج: همه بر سر اینکه آموزش بیشتر ضروری است، اتفاق نظر داریم. سوالی که مطرح است، این است که تمرکز ما در آموزش باید چگونه باشد؟ تاکنون ما قبل از هر چیز دیگری به امر آموزش در کمپ ها مشغول بودیم، چیزی که بیشتر در حد مشاوره و راهنمایی بود. اکنون تمرکز ما این است که حضور در سطح کشور افغانستان افزایش یابد، به این معنا که آموزش ارتش، پولیس و نیروهای امنیتی این کشور با حمایت مردم این کشور هماهنگ باشد.

س: شما به عنوان وزیر دفاع آلمان هفته‌های کمی بعد از اینکه به این سمت منصوب شدید، به دلیل حملۀ کندز به کمیسیون بازرسی فرا خوانده شدید. آیا شما از نتایج این کمیسیون هراس ندارید؟

ج: خیر من حتا از نتایج این کمیسیون استقبال نیز می‌کنم. هدف نهایی و اصلی این کمیسیون، روشن شدن ابعاد چیزی بود که در چهارم سپتمبر طی حملۀ هوایی کندز روی داد. هر چیزی که سهمی در اصلاح و شفاف شدن حملۀ چهار سپتمبر داشته باشد، بسیار خوشایند است و من آن را پذیرا هستم. از این رو، من از کار این کمیسیون استقبال می‌کنم. علاوه بر این باید بگویم که ارزیابی من از حملۀ کندز بر اساس مشاوره‌های نظامی اتخاذ شد، هر چند که بعدها من آن را اصلاح کردم و این مسأله باعث تعجب همگان شد. زمینه‌های ارزیابی دوم من کاملا روشن است. اسناد جدید، گزارش‌ها، اخبار و تصامیم جدیدی که در این زمینه روشن شد، باعث تصمیم‌گیری و اظهار نظر دوبارۀ من در این مورد شد.

س: شما از شرایط شبه جنگی سخن گفته بودید. چرا شما از جنگ سخن نگفتید؟

ج: جنگ به درگیری حداقل دو کشور اطلاق می‌شود که ما چنین وضعیتی را در افغانستان نداریم، اما من به عنوان وزیر امور خارجه گفته‌ام، افرادی را که شرایط افغانستان را جنگی می‌دانند، درک می‌کنم. وقتی عبارت شرایط شبه جنگی را به کار می‌بریم، احساس می‌کنم که قدم بزرگی به سمت واقعیات برداشته‌ایم.

س: اغلب بحث خروج نیروها از افغانستان مطرح می‌شود، حداقل از جدول زمانی خروج نیروها. به عقیدۀ شما طی دو یا سه سال گذشته باید چه اتفاقاتی روی دهد، تا جامعۀ بین‌المللی از آن طریق بتواند، عقب نشینی کند؟

ج: ما به امنیت بیشتری نسبت به چیزی که اکنون داریم، نیازمندیم و برای امنیت بیشتر نیز به موفقیت بیشتر در آموزش نیروهای امنیتی افغانستان و پیروزی در بازسازی افغانستان نیازمندیم. همۀ این‌ها باید به شکل عدد و رقم در آید. امنیت نباید به صورت همیشگی به یک وجهۀ بین‌المللی تبدیل شود، بلکه امنیت افغانستان باید وجهه‌یی افغان داشته باشد.

س: واشنگتن چند هزار سرباز به شمال افغانستان اعزام می‌کند؟

ج: ما از این تصمیم امریکاییان استقبال می‌کنیم، اما مسألۀ مهم و درست این است که نیروهای امریکایی در شمال افغانستان نیز، تحت هدایت و رهبری آلمان‌ها بمانند. برای این هدف ما باید ساختارهای متناسب را به وجود آوریم.

س: اگر شرایط و انتظارات برای خروج برآورده نشود، آلمان تا ابد در افغانستان باقی خواهد ماند؟

ج: ما نه از حضور تا ابد در افغانستان و نه از خروج فوری سخن می‌گوییم. ما خواهان موفقیت در افغانستان هستیم و موفقیت هم ممکن است. موفقیت در افغانستان نیز، به این معنا نیست که ما دموکراسی طبق الگوی غربی ایجاد کنیم. این کشور به دولت باثباتی نیاز دارد که با ویژه گی‌های منطقه و فرهنگ این کشور هماهنگ است.

افغانستان، عراق نیست

از سال ۲۰۰۳ میلادی که ایالات متحده به همراه بریتانیا به عراق بار سفر بست تاکنون همواره بحث مقایسۀ این دو جنگ با هم وجود داشته است. زمزمه‌ها اما زمانی بالا گرفت که بارک اوباما رییس‌جمهور ایالات متحده بار و بنه خود را از مجلس سنا جمع کرده و به کاخ سفید اسباب کشی کرد. اوباما از همان روزهای حضور در رقابت های انتخاباتی، افغانستان را در راس همه اولویت‌های خود قرار داد. این پافشاری تا بدان‌جا پیش رفت که همگان به این باور قطعی رسیدند که قرار است، افغانستان در راس همه امور قرار گیرد و عراق هم فراموش شود. با این‌وجود، همه امروز در افغانستان به دنبال پیاده کردن همان استراتیژی هستند که دیروز در عراق پیاده شد. افزایش نیرو و به دنبال آن موفقیت در افغانستان. عراق پس از اعزام نیروهای بیشتر به این کشور، در مسیر موفقیت قرار گرفت.

عراقی‌ها درست بعد از همین برهۀ زمانی بود که اندک اندک کنترول امور امنیتی خود را بر عهده گرفتند. اکنون بسیاری اعتقاد دارند که الگوی عراق را در افغانستان هم می‌توان پیاده کرد. در این میان، جنرالان ارتش که از نزدیک شاهد اوضاع متفاوت حاکم بر افغانستان و پاکستان بوده‌اند؛ اعتقاد دارند که این دو کشور با هم تفاوت‌های اساسی دارند. جنرال دیوید پترایوس که قوماندانی مرکزی نیروهای ایالات متحده را در منطقه بر عهده دارد، اعتقاد دارد که طرح جدید افزایش نیروها در افغانستان در مقایسه با طرح افزایش نیروها در عراق، در راستای رسیدن به هدفش در مقابله با شبه نظامیان، زمان بیشتری به طول خواهد انجامید.

اسوشییتدپرس می نویسد، جنرال دیوید پترایوس هشدار داد که جنگ در ولایت هلمند، جایی که نیروهای امریکایی و انگلیسی در آن مستقر هستند، پیش از آنکه اوضاع بهبود یابد، حتا سخت‌تر خواهد شد. این جنرال امریکایی در ادامه افزود: در زمان مناسب، این احتمال وجود دارد که مقام های افغان با مقام های ارشد طالبان و دیگر رهبران شبه نظامی مذاکرات سازش برگزار کنند.

در سال ۲۰۰۵، جنرال پترائوس پیش بینی کرده بود که جنگ افغانستان طولانی‌ترین جنگ در مسیر جنگ علیه تروریزم خواهد شد. خشونت‌ها در افغانستان طی ماه‌های تابستان و ماه‌های اخیر افزایش یافت و جنرال پترائوس پیش بینی کرد که سال جاری بار دیگر سال خونباری در افغانستان شود.

پترائوس اعتقاد دارد که هنوز زود است، تا در مورد اینکه اوضاع امنیتی افغانستان در سال ۲۰۱۱ بهبود خواهد یافت، یا خیر. قضاوت شود.

پترائوس افزود: این ارزیابی را مطرح نکرده‌ام که اوضاع افغانستان نیز می‌تواند، به ص۳

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

مرکز نشراتی افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.